# فَیضانِ رَمَضان

**08-April-2021**



هفته‌وراه د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې کېدونکے

د سُنَّتو ډك بيان

(For Islamic Brothers)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

# فَيضانِ رَمَضان

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللہ
اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللہ

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَافِ **(ترجمه:** ما د سُنَّتِ اعتكاف نِيَّت اوكړو)

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** چې كله جُمات ته داخل شئ، چې ياد مو وي نو د اِعتِكاف نِيَّت كوئ، تر څو چې جُمات كښې ئې نو د اِعتِكاف ثواب به مو كيږي. ياد ساتئ! جُمات كښې د خوراك څښاك، اُوده كيدلو يا پيشمني او روژه ماتي كولو، تر دې چې د آبِ زَم زَم يا دَم كړو اوبو څښلو هُم شرعاً اجازت نشته، البته كه د مخكښې نه مو د اعتكاف نِيَّت كړے وي نو دا ټول كارونه به ضِمناً جائز شي.

## دُرُود شريف نه لوستونكے بدبخته دے

د خوږ آقا مكي مدني مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: ۞ چا چې د رَمَضانُ المُبارك مياشت اوموندله او د هغې روژے ئې اُونه نيولې هغه بدبخته دے، ۞ چا چې خپل مور و پلار يا د هغوئي نه يو اوموندو او هغوئي سره ئې ښه سلوك اونكړو هغه هم بدبخته دے، ۞ او د چا خوا ته چې زما ذِكر اوشو او هغه په ما دُرُود اُونه وئيلو

هغه هم بدبخته دے.[1]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# د بیان اوریدلو نیتونه

**فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: **اَفْضَلُ الْعَمَلِ اَلنِّيَّةُ الصَّادِقَةُ** (یعنې) رښتینے نِیَّت د ټولو نه افضل عمل دے.[2]

**اے عاشقانِ رَسُول!** یاد ساتئ! په نیك او جائز کار کښې چې څومره ښه نِیَّتونه زیات وي هغه همره به ثواب هُم زیات کیږي. د ثواب حاصلولو د پاره د بیان اوریدو نه مخکښې ښه ښه نِیَّتونه کوو:

نِیَّت اوکړئ چې، ❁ نظر به ښکته ساتم او ښه په غور به بیان اورم. ❁ چې څومره کیدے شو د ډېره وهلو په ځائے به د عِلمِ دِین د تعظیم [یعني ادب] په نِیَّت دوزانو [یعني د اَلتَّحِيَّات په شکل کښې] کښینم ❁ که قلم کاغذ درسره وي نو د اهمو نکاتو نوټ کولو نِیَّت هم اوکړئ.

# د رَمَضان او د اختر د شپږو روژو برکت

حضرت سُفیان ثوري رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د علِمِ فِقه او عِلمِ حدیث ډېر لوئ امام تیر شوے دے، په سن 99 هجري کښې پیدا شوے وو، ډېر مُتَّقِي، پرهیزګاره، عبادت ګزاره او د خپلې زمانے د مسلمانانو امام وو، یو ځل حضرت سُفیان ثوري رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ته درې کاله په مَکَّۂ مُکَرَّمه کښې د اوسیدلو سعادت نصیب شو، فرمائي: په مَکَّۂ مُکَرَّمه کښې یو کس وو، هغه به هره ورځ د غرمے په وخت کښې حرم شریف ته راتللو، د کعبے

---

[1]…**معجم اَوْسط، جلد**:3، **صفحه**:62، **حدیث**:3871۔

[2]…جامع صغیر، صفحه:81، حدیث:1284۔

طواف به ئې کولو، دوه رکعته واجبُ الطَّواف به ئې ادا کول، بیا به ئې ما ته سلام کولو او خپل کور ته به بیرته لا ړلو، هره ورځ د هغه دا معمول وو، زما د هغه نیك بنده سره محبت پیدا شو، یو ځل هغه ډیر سخت ناجوړه شو، زه چې خبر شوم نو د هغه تپوس له ورغلم، د هغه حالت سخت وو، هغه ما ته وصِیَّت اوکړو: چې کله زه وفات شم نو ما ته په خپلو لاسو غسل راکړه، زما د جنازې د لمُونځ امامتي اوکړئ او ما یواځې مه پرېږدئ، ټوله شپه زما د قبر خوا ته کښینئ او د **مُنکَر نَکِیر** د راتلو په وخت کښې ما ته تلقین هُم اوکړئ.

د **تلقین** معنٰی ده: نصیحت کول، ورزده کول. چې کله مړے په قبر کښې کیښودے شي او خاورې پرې واچولے شي، هغه وخت دِ یو کس د قبر سر طرف ته اودریږي او اُو دِ وائي: **یا فُلان اِبنِ فلانة** [یعني اے فلانکیه د فلانئ ځویه] هغه به واوري او جواب به نه ورکوي. تلقین کولو والا دِ بیا اووائي: **یا فُلان اِبنِ فلانة**، دا ځل به هغه واوري او سم به کښیني. تلقین کولو والا دِ بیا اووائي: **یا فُلان اِبنِ فلانة**، هغه به اووائي: ''مونږ ته تلقین اوکړه، **اللّٰه** تعالٰی دِ په تا رحم اوکړي.'' (خو تاسو ته د هغه د وئیلو خبر نه کیږي.) تلقین کولو والا دِ بیا اووائي: **اُذْكُرْ مَا خَرَجْتَ عَلَيْهِ مِنَ الدُّنْيَا**: یاد کړه ته د د دُنیا نه په کوم حالت تلے وے **شَهَادَةَ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ، وَاَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ** (صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) یعني تا دا ګواهي ورکوله چې د **اللّٰه** نه سِوا هیڅ څوك د عبادت لائق نشته او **مُحَمَّد** صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغه بنده او رسُول دے **وَاَنَّكَ رَضِيْتَ بِاللّٰهِ رَبًّا وَّ بِالْاِسْلَامِ دِيْنًا وَّ بِمُحَمَّدٍ** (صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) **نَبِيًّا وَّ بِالْقُرْاٰنِ اِمَامًا**۔ او ته د **اللّٰه** تعالٰی په ربّ کیدو او د اسلام په دِین کیدو او د **مُحَمَّد** صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په نبـی کیدو او د قرآن په امام کیدو باندې راضي وے.''

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د تلقين دا طريقه سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ښودلي ده او فرمائيلي ئې دي: چې کله مړي ته تلقين کيږي نو مُنکَر نکِير (دا دوه فرښتے دي چې د مړي نه درې تپوسونه کوي، دوئي) د يوبل لاس اونيسي او وائي: راځئ چه ځُو مونږه د هغه خوا ته ولې کښينو چا ته چې خلقو د هغه حُجَّت [يعني د سوالونو جوابونه] زده کړي دي.

مړي ته داسې تلقين کول په هغه باندې غټ احسان دے، که تاسو لږ وخت اوباسئ او تلقين ورته اوکړئ نو مړے به د سُوالونو د جوابونو نه بچ شي، نو په تقلين کولو کښې سُستي کول نه دي پکار او ياد لرئ! تلقين به صِرف په عربئ کښې وي. او مړي سره به د هغه د مور نوم اخلئ، او که د مور نوم ئې معلوم نه وي نو د ټولو انسانانو د مور حضرت حَوَّا (رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا) نوم دِ واخلي. [(1)]

حضرت سُفيان ثوري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: هغه نيك انسان ما ته دغه شان د تلقين کولو وصِيَّت اوکړو، ما د هغه په وَصِيَّت باندې د عمل کولو وعده اوکړه، چې کله هغه کس مړ شو نو ما هغه ته د هغه د وَصِيَّت مطابق په خپلو لاسو غسل ورکړو، د جنازے د لمانځه امامتي مې پرې اوکړه، قبر ته مې کوز کړو، هغه ما ته وَصِيَّت کړے وو چې کم از کم يو شپه به ما يواځې نه پريږدے، ټول خلق لاړل زه د هغه د وَصِيَّت مطابق يواځې د هغه د قبر خوا ته کښيناستم، په ناسته ناسته اُوده شوم، د خوب په حالت کښې ما يو غيبي غږ واوريدو، چې: اے سُفيانه! ده ته ستا د تلقين او نِزدے والي هيڅ حاجت نشته، مونږه پخپله ده ته اُنس ورکړو [يعني په قبر کښې مو د ده ويره ختمه کړه] او پخپله مو ورته تلقين اوکړو. حضرت سُفيان ثوري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ما اووئيل: ده ته

---

[1]...**معجم کبير**، **جلد**:4، **صفحه**:348، **حديث**:7906۔

د کوم عمل په وجه دا مرتبه نصيب شوه؟ آواز راغلو: د رَمَضَانُ الْمُبَارَك او د هغې نه پس د شَوَّالُ الْمُكَرَّم د شپږو روژو نيولو په برکت. حضرت سُفيان ثوري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: په هغه يوه شپه ما دا خوب درې ځله اوليدلو. (1)

میں رحمت، مغفرت، دوزخ سے آزادی کا سائِل ہوں
مہِ رمضان کے صدقے میں فرمادے کرم مولیٰ!
بَرَاءَت دے عذابِ قبر سے، نارِ جہنّم سے
مہِ شعبان کے صدقے میں کر فضل و کرم مولیٰ!
نہیں درکار وہ خوشیاں، جو غفلت کا بنیں ساماں
عطا کر اپنی اُلفت، اپنے پیارے کا تُو غم مولیٰ! (2)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

اے عاشقانِ رسول! مبارك مو شه!... ټولو ته مبارك شه...!! د الله پاك په کرم او احسان يو ځل بيا د رَمَضَانُ الْمُبَارَك مياشت راروانه ده، لږې ورځې پس به يو ماښام راشي چې ټول مسلمانان به آسمان طرف ته ګوري او د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د مياشتې ليدلو کوشش به کوي، د يو طرف نه به غږ اوشي، هغه ده اوګورئ! د رَمَضَانُ الْمُبَارَك مياشت ښکاره شو، د دې سره به په جماتونو کښې اعلانونه شروع شي: **ټولو عاشقانِ رسول ته دِ مبارك شي! چې د عظمتونو، برکتونو والا او د بخښنې مياشت رَمَضَانُ الْمُبَارَك مياشت ښکاره شوه، صبا به اِنْ شَآءَاللّٰه روژه وي.**

مرحبا! صد مرحبا! پھر آمدِ رمضان ہے | کِھل اُٹھے مُرجھائے دِل، تازہ ہوا اِیمان ہے

---

[1] ...فيضانِ رمضان، صفحه:395۔
[2] ...وسائلِ بخشش، صفحه:9998۔

یاخُدا ہم عاصیوں پر یہ بڑا اِحسان ہے | زِندگی میں پھر عطا ہم کو کیا رمضان ہے
اَبْرِ رحمت چھا گیا ہے اور سماں ہے نور نور | فَضْلِ رَبّ سے مغفرت کا ہو گیا سامان ہے
ہر گھڑی رَحْمت بھری ہے، ہر طرف ہیں بر کتیں | ماہِ رمضاں رحمتوں اور برکتوں کی کان ہے
یاالٰہی! تُو مدینے میں کبھی رمضاں دکھا | مُدّتوں سے دِل میں یہ عطّار کے ارمان ہے[1]

## د آسماني کتابونو نازليدلو مياشت

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** واقعي عظِيمُ الشَّانه مياشت ده، د دې د شان و عظمت او برکت اندازه د دې نه اولګوئ چې **الله** پاك د انسان د هدايت، رهنمائۍ د پاره او انسان ته د جنَّت لاره ښودلو د پاره په مختلفو ژبو کښې څلور آسماني کتابونه نازل کړي دي: (1) تورات (2) زَبُور (3) اِنجِيل او (4) قرآنِ کريم. د دې څلورو واړو کتابونو د نازِلولو د پاره **الله** پاك د **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** مياشت مقرره کړي ده، د مُسنَد اِمام احمد روايت دے: د **الله** پاك آخري نبي صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: * د حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام صحيفے د رَمَضان په وړومبۍ شپه نازلې شوي وے، * تورات شريف د **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** په ووه مه شپه نازل شوے وو، * اِنجيل شريف د **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** په څوارلسمه شپه نازل شوے وو،[2] او د **مُصَنَّف اِبْنِ اَبِي شَيْبَه** په روايت کښې دي: * زَبُور شريف د **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** په شپږم تاريخ نازل شوے وو،[3] پاتې شو قرآنِ کريم نو **الله** پاك د **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** تعارُف په دې الفاظو کړے دے:

| | |
|---|---|
| شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِیْۤ اُنْزِلَ فِیْهِ الْقُرْاٰنُ | مفهوم ترجمه کنزالايمان: د رَمَضان مياشت [هغه ده] |

---

[1] ...وسائل بخشش، صفحه:706705۔
[2] ...مسندِ اَحمد، جلد:7، صفحه:85، حديث:17447۔
[3] ...مُصَنف اِبْنِ اَبِیْ شیبه، کتاب:فضائل القران، جلد:7، صفحه:191، حديث:5۔

| | |
|---|---|
| په کومه کښې چې قرآن نازل شو. | (پارہ2،سورۃالبقرۃ:185) |

## د رَمَضَانُ الْمُبَارَك بعضې فضائل

شیخ عبدُ القادر جیلاني رَحْمَةُاللهِعَلَيْه فرمائي: په لفظِ رمَضَان کښې پینځه حروف دي: (1) وړومبے حرف راء: د دې نه مراد رِضْوَانُ الله یعنې د الله رضا، (2) دویم حرف میم: د دې نه مراد مَحَابَاةُاللهِعَنِ الْعُصَاةِ یعنې د **الله** پاك په ګنهګارانو باندې رحمت او مهرباني کول، (3) دریم حرف ضاد: ضَمَانُ الله یعنې د **الله** پاك امان، (4) څلورم حرف الف نه مراد اُلْفَةُ الله یعنې د الله محبت دے، (5) پینځم حرف نون نه مراد نُوْرُ الله د الله نُور دے. پس معلومه شوه چې رَمَضَانُ الْمُبَارَك د **الله** پاك د رضا نصیب کیدو میاشت ده، رَمَضَانُ الْمُبَارَك په ګنهګارانو باندې د رحمت راوریدلو میاشت ده، رَمَضَانُ الْمُبَارَك د **الله** د امان میاشت ده، رَمَضَانُ الْمُبَارَك د **الله** پاك د محبت نصیب کیدو او د نُورِ اِلٰهي میلاویدو میاشت ده.

پیرانِ پیر غوثِ اعظم دستګیر حضرتِ سَیِّدُنا شیخ عبدالقادر جیلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نور فرمائي: د رَمَضان مثال په سینه کښې د زړه په شان دے، زړه ته د نُورِ اِیمان او نُورِ معرفت نه زینت یعنې ښکلا نصیب کیږي، دغه شان رَمَضَانُ الْمُبَارَك د تلاوتِ قرآن په نُور ښائسته کولے کیږي، د رَمَضان مثال په انسانانو کښې د انبیاؤ په شان دے، انبیاء د ګنهګارانو شفاعت کوي، دغه شان به رَمَضَان هُم د روژه دارو شفاعت کوي او د رَمَضان مثال په ښارونو کښې د مکے او مدینے په شان دے چې د دې ښارونو ته به دَجَّال نه شي داخلیدے، دغه شان په رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې سرکشه شیطانان په زنځیرونو تړلے کیږي. د دې ټولو برکتونو او فضیلتونو باوجود چې د چا بخښنه په رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې اونشي نو په کومه میاشت کښې به بخښلے کیږي؟ هر مسلمان له پکار دي چې په دې

مُقَدَّسه میاشت کښې توبه اوکړي، مخکښې د دې نه چې د توبے دروازه بنده شي، هر مسلمان له پکار دي چې په دې مبارَکه میاشت کښې ژړا او زاري اوکړي مخکښې د دې نه چې د رحمت وخت تیر شي. (1)

**صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب!          صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

**اَلْحَمْدُ لِلّٰه**! د **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** د فضائلو نه احادیث ډك دي، د احادیثِ کریمه مطابق: ¤ د **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** په وړومبۍ شپه د آسمانونو دروازے بیرته کړے شي او د آخرۍ شپے پورې نه بندیږي، ¤ کوم بنده چې په **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** کښې د شپے لمُونځ کوي، **الله** پاك د هغه د هرې سجدے په بدله کښې د هغه د پاره پینځلَّس سوه نیکۍ لیکي او د هغه د پاره په جنَّت کښې د سرو یاقوتو کور جوړوي. ¤ څوک چې د **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** وړومبۍ روژه اونیسي، نو د هغه تیر شوي ګناهونه مُعاف کړے شي، ¤ د سحر نه ماښامه پورې اویا زره فرښتے د هغه د پاره د بخښنې دُعاګانې کوي، ¤ د شپے او ورځې چې کله هُم هغه بنده سجده کوي، د هغه د هرې سجدے په بدله کښې هغه ته (په جَنَّت کښې) یوه یوه داسې ونه عطا کیږي چې د هغې په سَوري کښې (په اَس) سور کس 500 کاله روان اوسي. (2)

**سُبْحٰنَ الله**! قربان شم د **الله** پاک د رحمتونو نه! په **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** کښې صرف په یوه سجده باندې پینځلَّس سوه نیکۍ، په جَنَّت کښې د سرو یاقوتو کور او دومره غټه ونه چې په اَس سور کس د هغې په سَوري کښې 500 کاله روان وي، **سُبْحٰنَ الله**! **سُبْحٰنَ الله**!د دې نه دِ هغه خلق عبرت حاصل کړي څوک چې **مَعَاذَ الله**! تراویح نه ادا کوي یا

[1]...غُنْيَةُ الطالبين، فصل: رمضان خَمْسَةَ اَحْرُفٍ، جز:2، صفحه:15۔

[2]...شُعَبُ الْاِيْمَان، باب: في الصيام، جلد:3، صفحه:314، حديث:3635ملتقطًا۔

پورا شل رکعته نه ادا کوي. غور اوکړئ! د تراويح په شلو رکعتو کښې څلويښت سجدے دي يعنې څوك چې شل رکعته تراويح ادا کړي نو د **الله** پاك د رحمت نه امید دے چې هغه ته به شپيته زره نيکئ نصيب شي، په جنَّت کښې به د هغه د پاره څلويښت ونې اولګي، دا خو صرف د سجدو نيکئ دي، د قيام، رکوع او په تراويح کښې د قرآنِ کريم اوريدلو او دومره ساعت په جُمات کښې د حصاريدلو وغيره ثواب د دې نه علاوه دے. کوم نادان خلق چې اَته رکعته تراويح اوکړي او کورونو ته لاړ شي، نو داسې ده لکه هغوئي چې د شپږ ديرش زرو نيکو او څلور ويشت جَنَّتي ونو نه محرومه شي او څوك چې دولس رکعته ادا کوي، هغوئي د څلور ويشت زرو نيکو او شپاړس جَنَّتي ونو نه محرومه پاتې کيږي، دا خو په حديثِ پاك کښې د بيان شوي شمير مطابق ښکاره شمير دے، که د **الله** پاک په رحمت نظر اوساتلے شي نو د پورا شل رکعته تراويح لوستلو والؤ د خوش نصيبئ او د نيمګړو تراويح ادا کولو والؤ د محرومئ اندازه لګول ممکن نه دي.

**الله** پاك دِ مونږ ټولو ته هدايت نصيب کړي او ټوله مياشت دِ د پورا شل رکعته تراويح ادا کولو توفيق را عطا کړي.اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　　　صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

راځئ چې په احاديثو کښې بيان شوي د **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** نور فضائل واورو، د **الله** پاک آخري نبي مکِّی مَدَنی مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: ۞ چې د **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** وړومبئ شپه راشي نو **الله** پاك زما اُمَّت طرف ته د رحمت نظر کوي او چا ته چې **الله** پاك د رحمت نظر اوکړي، هغه ته به کله هم عذاب نه ورکوي. ۞ د **رَمَضَانُ**

**اَلْمُبَارَك** په هره شپه کښې فرښتے زما د اُمَّت د پاره د بخښنې دُعاګانې کوي،[1] ۞ بيشکه د کال د شروع (يعنې د وړوکي اختر د مياشت ښکاره کيدو نه د) راروان کاله پورې جنَّت د **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** د پاره ښائسته کولے کيږي.[2] ۞ په **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** کښې د روژه ماتي په وخت هره ورځ د لس لکه ګنهګارانو بخښنه کيږي او د جُمُعے په شپه او د جُمُعے په ورځ په هر هر ساعت کښې لس لس لکه [ګنهګاران] بخښلے کيږي او دا ټول بخښنه حاصلوونکي هغه دي په چا چې دوزخ واجب شوے وو.[3] ۞ بيا چې کله د **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** يو کم ديرشمه شپه راشي نو د ټولې مياشتې د شمير مطابق [ګنهګاران] د دوزخ نه آزاد کړے شي. **(4)**

کاش چې! د **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** په مياشت کښې د بخښنې سعادت حاصلوونکو کښې زمونږ نومونه هم شامل شي. **اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين** صَلَّی اللہُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

| | |
|---|---|
| عصياں سے کبھی ہم نے کنارہ نہ کيا | پَر تُو نے دِل آزُردہ ہمارا نہ کيا |
| ہم نے تو جہنّم کی بہت کی تجويز | ليکن تری رحمت نے گوارا نہ کيا |

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!    صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

## د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د دوو نومونو وضاحت

د حضرت سَيِّدُنا سَلمان فارسي رَضِیَ اللہُ عَنْه نه روايت دے چې: د **الله** پاك آخري نبي، **مُحَمَّدِ** عربي صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شَعبان د مياشتې په آخري تاريخ د **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** فضائل بيان کړل، په هغې کښې ئې اوفرمائيل: **هُوَ شَهْرُ الصَّبْرِ، رَمَضَانُ الْمُبَارَك** د صبر

---

[1] ...**شُعَبُ الْاِيْمَان**، باب: في الصيام، جلد:3، صفحه:303، حديث:3603ملتقطًا۔

[2] ...**شُعَبُ الْاِيْمَان**، باب: في الصيام، جلد:3، صفحه:312، حديث:3633۔

[3] ...**كَنْزُ الْعُمَّال**، جزء:8، جلد:4، صفحه:223، حديث:23716۔

[4] ...**كَنْزُ الْعُمَّال**، جزء:8، جلد:4، صفحه:219، حديث:23702ملتقطًا۔

مياشت ده او د صبر ثواب جنَّت دے، رَمَضَانُ الْمُبَارَك د مُؤاسات [يعنې خير ښيګړې] مياشت ده.(1)

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** رَمَضَانُ الْمُبَارَك د صبر مياشت کيدل خو ښکاره دي چې په دې مياشت کښې د خوراك ځښاك او هر هغه څيز نه په څه چې روژه ماتيږي، د سحر نه تر ماښامه پورې د هغه ټولو نه صبر کيږي، په دې وجه دې ته د صبر مياشت وائي. پاتې شوه دې ته "د مُؤاسات مياشت" وئيل، د مُؤاسات معنٰى ده: همدردي، خير ښيګړه او غم خواري. ځکه چې په رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې د ټولو مسلمانانو سره او خاص طور د نِزدې خپلوانو سره د نيکۍ او خير ښيګړې کولو زيات ثواب دے، په دې وجه دې ته " د مُؤاسات مياشت " وائي. عُلمائے کرامو دروژے فرض کيدو په حکمتونو کښې يو حکمت دا هم بيان کړے دے چې روژه بنده ته عملي طور د لوږې او تندې احساس ورکوي. چې کله په انسان باندې پخپله لوږه او تنده راشي نو هغه ته د غريبانانو د غريبۍ حقيقت معلوم شي او چې کله انسان د غريبۍ په حقيقي مفهوم پوهه شي نو پخپله به د غريبانو او فقيرانو مدد کولو طرف ته مائل شي.

معلومه شوه چې روژه موږ ته د لوږې او تندې د سختۍ احساس راکوي او د غريبانو د غريبۍ احساس راکوي. **اے عاشقانِ رسول!** دلته دا راز ښکاره شو چې د روژے په حالت کښې مرۍ اوچيدل، د کولـمو اوچيدل، د لوږې او تندې ډير زيات احساس کيدل د روژے مقصد دے، که موږه په پيشمني کښې دومره زيات خوراك اوکړو چې ټوله ورځ را ته هډو د لوږې او تندې احساس اونشي نو د داسې کولو په وجه به د روژے اصل مقصد ختم شي او د زيات خوراك په وجه به د معدے د خرابيدلو قوي

---

[1]...شُعَبُ الْاِیْمَان، باب: فی الصیام، جلد:3، صفحه:305، حديث:3608۔

اندیښنه هم وي. لِهٰذا په روژه کښې هم د کم طعام خوړلو په سُنَّت باندې پورا پورا عمل کوئ او ډیر ثوابونه ګټئ.

که په مونږ کښې څوک مالدار وي او د پیشمنې او روژه ماتې په وخت لس قِسمه طعام تیارولے شي، په روژه ماتې باندې زرګاؤ روپۍ خرچ کولے شي او د دې باوجود کم خوراك اوکړي، روژه ماتے او پیشمنے هم ساده اوکړي او د خپل حاجت نه زیات مال په غریبانو، مسکینانو او فقیرانو باندې خرچ کړي نو اِنْ شَآءَ اللّٰه ډیر ثوابونه به اوګټي.

## د روژے د فرض کوونکي آیت تفسیر

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو!** د رَمَضَانُ الْمُبَارَك روژے **اللّٰه** پاك په مونږه فرض کړې دي، ارشاد دے:

| | |
|---|---|
| يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴿۱۸۳﴾ (پارہ2،سورۃالبقرۃ:183) | **مفهوم ترجمه کنز الایمان:** اے ایمان والؤ! په تاسو باندې روژے فرض کړے شوې، څنګه چې په مخکنو فرض شوي وے چې چرته تاسو ته پرهیزګاري ملاو شي. |

د اعلیٰ حضرت، امامِ اهلسُنَّت شاه احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه والدِ **محترم**، حضرت علامه نقي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې آیت لاندې ډیر قیمتي او د ایمان نه ډك مدني ګلونه لیکلي دي، فرمائي: اے عزیزه! دا آیت اولوله او اوَّل خو په دې قیمتي دولت باندې غور اوکړه چې **اللّٰه** پاك د روژه دار د اِیمان ګواهي ورکړې ده او هغه ئې د "اے ایمان والؤ" په نوم باندې ئې یاد کړے دے، (د چا په زړه کښې چې د الله د محبت شمع روښانه وي نو د هغه د پاره د دې خطاب خوږ والے په روژه نیولو باندې اماده کولو د پاره کافي دے خو د **اللّٰه** پاك د شفقت و مهربانۍ او رحمت سلسله هُم دلته ختمه نه ده) د دې نه پس **اللّٰه** پاك د خپل حبیب صَلَّى اللهُ تَعَالٰى

عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خوږ اُمَّت د تسکین او تَسَلِّیٔ د پاره فرمائیلي دي: څنګه چې ستاسو نه مخکښنو اُمَّتونو باندې فرض شوي وے.[(1)]

حضرت سَیِّدُنا عَلِـیُّ المُرتضٰی رَضِیَ اللهُ عَنْه فرمائي: روژه پخوانے عبادت دے، یو شریعت د دې د فرض کیدو نه خالي نه دے.

بیا د **اللّٰه** پاك عنایت او مهرباني اوګورئ! ارشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| اَیَّامًا مَّعْدُوْدٰتٍ ؕ (پارہ2،سورۃالبقرۃ:184) | مفهوم ترجمه کنزالایمان: د شمیر [یو څو] ورځې دي. |

حضرت علامه نقي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه فرمائي: دا الفاظ هم د **اللّٰه** پاك په ډیره زیاته مهربانۍ باندې دلیل دے، د دې نه معلومه شوه چې **اللّٰهُ** رحمٰن و رحیم ته د اِنتِها نه هُم زیات د دې اُمَّت زړه ساتل منظور دي. په ډیره تَسَلِّیٔ سره ئې اوفرمائیل: فکر مه کوئ! د روژے فرضیت صرف د یو څو ورځو د پاره دے.خو! د ورځو شمیر ته مه ګورئ، د روژو مشقت ته هُم مه ګورئ، بلکه د دې په فائدو غور اوکړئ۔

چې روژے اونیسئ نو څه به میلاویږي؟ ارشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴿۱۸۳﴾ (پارہ2،سورۃالبقرۃ:183) | مفهوم ترجمه کنزالایمان: چې چرته تاسو ته پرهیزګاري ملاو شي. |

یعنې د روژے په برکت به تاسو ته د پرهیزګارئ عظیمُ الشَّان نِعمَت میلاؤ شي. حضرت علامه نقي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه فرمائي: روژه د ریاضت او نفس مړ کولو مشق دے، په انسان کښې دوه قُوَّته دي چې هغه د ټولو ګناهونو جرړې دي، یو شَهوت، دویمه غُصَّه. دا دواړه قُوَّتونه د زیات خوراك څښاك سره زیاتیږي او د کم خوراك څښاك کولو سره کمزوري کیږي، کله چې بنده کم خوراك، څښاك کوي نو د هغه شهوت او

---

1...جواہر البیان، صفحه:86بتغیر قلیل۔

غُصَّه کميږي، نفس ئې کمزورے کيږي او په زړه کښې ئې د اِيمان نُور زياتيږي، بيا په قلاره قلاره دا مقام حاصليږي چې بنده ګناهونه پريږدي او د **الله** پاك طرف ته پورا مُتَوَجِّه شي، تر دې چې د نُورِ اِيمان په وجه هر طرف ته د **الله** پاك د قدرت نظارے ويني او خپل اِيمان و يقين زياتوي. (1)

**مُحَمَّدِ عَرَبِی**، مکي مدني مُصطفٰی صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: خپلې خيټې اوږې ساتئ! خپل ځيګرونه تږي ساتئ، تاسو به **الله** پاك ظاهر او ښکاره (يعنې هر طرف ته د هغه د قدرت نښې) وينئ. (2) په حديثِ پاك کښې فرمائي: شيطان د انسان په بدن کښې د وينې په شان ګردش کوي،(3) د لوږې او تندې په ذريعه د هغه لاره تنګه کړئ. (4)

حضرت علامه نقي علي خان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه نور فرمائي: اے عزيزه! ستا په خوړلو د **الله** پاك د رزق په خزانو کښې کمے نه راځي خو خبره دا ده چې په مړه خيټه خوراك کولو سره به ته د نفس پابند شې او د **الله** پاك او ستا په مينځ کښې به پرده حائله شي. او اُوږې اوسيدو سره به دِ د زړه صفائي کيږي، زړه به دِ نرم شي، عبادت به خوند درکوي- عاجزي او انکساري به دِ نصيب شي، د شَهوت زور به ختم شي، په خوب کښې به دِ کمے راشي، په نيکي کولو کښې به ثابت قدمي درنصيب شي او د ډيرو مرضونو بيمارو نه به هُم خلاص شې. (5)

روژو نيولو سره صحت ميلاويږي.

---

1...جواہر البیان، صفحہ:87بتغیر قلیل۔

2...طبقات الشافعیہ، جلد:6، صفحہ:334۔

3...بخاری، کتاب: الاعتکاف، صفحہ:533، حدیث:2038۔

4...احیاء العلوم، جلد:3، صفحہ:98۔

5...جواہر البیان، صفحہ:87بتغیر قلیل۔

خاتمُ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم صفا صفا ارشاد فرمائيلي دي: **صُوْمُوْا تَصِحُّوْا** روژه اونيسئ! صحت مند به شئ. (1)

په تفسير قُرطبي کښې دي: يو ځل يو غيرمُسلِمه طبيب [يعني حکيم] د حضرت امام زينُ العابدين رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہ په خدمت کښې حاضر شو، اوئې وئيل: علم دوه قِسمه دے. (1) عِلمُ الاَديان (يعنې ديني علم) (2) عِلمُ الاَبدان (يعني علمِ طِب [يعني ډاکټري])

ستاسو په مذهبي کتاب قرآنِ کريم کښې علمِ دين شته دے خو طِب [يعني ډاکټري] پکښې نشته. حضرت امام زينُ العابدين رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہ اوفرمائيل: ته د ټول قرآن کريم خبره کوے، د قرآنِ کريم صرف يو جُز د ټول طِب [يعني ډاکټرئ] خُلاصه بيان کړي ده، هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہ د اتمې سيپارے د **سورۀ اعراف** د آيت نمبر 31 يو جُز تلاوت کړو:

| | |
|---|---|
| **وَّ كُلُوْا وَ اشْرَبُوْا وَ لَا تُسْرِفُوْا ۚ اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الْمُسْرِفِيْنَ ۟﴿۳۱﴾** (پاره8،سورۀ اعراف:31) | مفهوم ترجمه کنزالايمان: او خورئ څښئ او د حد نه مه تيريږئ، بيشکه د حد نه تيريدونکي هغه نه خوښوي. |

په دې آيت کښې د اِسراف دوه صورتونه دي: اوَّل دا چې بنده اُوږے نه وي او خوراك کوي، دويم ډير خوراك کول، **اللّٰه** پاك د دې دواړو خبرو نه منع کړي ده، ځکه چې بنده ښه اوږے شي نو هله دِ خوراك ته کښيني او چې لا زړه ئې نور خوراك هُم غواړي د خوراك نه دِ بس کوي نو اِنْ شَآءَ اللّٰه صحت مند به اوسي.

هغه غير مسلمه د دې آيت په اوريدلو اووئيل: دا خو مې اومنله چې قرآنِ کريم د ټول طِب خلاصه په يو څو لفظونو کښې بيان کړي ده خو ستاسو نبـي د دې په باره کښې هيڅ نه دي فرمائيلي، حضرت امام زينُ العابدين رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہ اوفرمائيل: زما د خوږ

---

[1]...**معجمُ الْاَوْسط**، **جلد**:6، **صفحه**:147، **حديث**:8312۔

نيکه سُلطانِ دوجهان صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم احاديث په زرګاؤ دي، په صرف يو حديث کښې خوږ نبـي صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عِلمِ طِب خلاصه بيان کړي ده، حديثِ پاك دے: د ټولو نه بد لوښے چې انسان ئې ډکوي، هغه د هغه خيټه ده، انسان له صرف يو څو نوړئ کافي دي، چې هغه د ده ملا نيغه اُوساتي. [1] هغه غير مسلمه ډاکټر چې کله دا حديثِ پاك واوريدلو نو اوئې وئيل: مَا تَرَكَ كِتَابُكُمْ وَلَا نَبِيُّكُمْ لِجَالِيْنُوْسَ شَيْئًا يعنې ستاسو کتاب او ستاسو نبـي صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د جالينوس (چې د خپل وخت لوئ حکيم وو، د هغه) د پاره هيڅ نه دي پريښودي، بلکه د ټول طِب [يعني ډاکټرئ] خُلاصه ئې بيان کړي ده.[2]

**الله** پاك دِ مونږ ټولو ته په **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** کښې د پوره روژو نيولو توفيق را عطا کړي، د روژو په برکت دِ مونږ ته د ظاهري او باطِني بيمارو نه هم شِفا را عطا کړي او د تقوٰی او پرهيزګارئ دولت دِ هم رانصيب کړي. اٰمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د پاره د اوس نه تياري اوکړئ

**اے عاشقانِ رسول!** داسې عظيمُ الشّانه مياشت راروانه ده چې د هغې هر ساعت د رحمتونو نه ډك دے، آيا مونږه د هغې د پاره تياري کړي ده؟ دا مياشت به مونږه څنګه تيروو؟ د دې برکتونه او رحمتونه به څنګه حاصلوو؟ آيا د دې د پاره مونږه څه منصوبه جوړه کړي ده؟ که نه مو وي جوړه کړي نو فوراً جوړول پکار ده. د نفسياتو د ماهرينو مطابق د يو کار د کاميابئ په بنيادي اُصولو کښې يو اُصول "**پيشګي منصوبه**" ده. څوک

---

[1] ...ترمذی، کتاب:الزہد، صفحه:566، حدیث:2380۔

[2] ...تفسیر قُرطبی، پارہ:8، سورۃ الاعراف، تحت الآیۃ:31، جلد:4، صفحه:118۔

چې خپله پیشګي منصوبه [اېډوانس پلاننګ] نه جوړوي، هغوئ خپل قیمتي وخت بربادوي.

څومره د افسوس خبره ده چې په کور کښې یو وړوکے شان دعوت وي، د څوئ واده وي یا د خپلوئ د پاره د هلک یا د جینئ لیدلو د پاره میلمانه راروان وي نو مونږه د یو یو څیز منصوبه جوړوو چې میلمانه به کوم ځائے کښینوو؟ د میلمستیا په طور به ورته څه پیش کوو؟ د میلمنو په راتلو به هغوئي ته شربت پیش کوو که چائے؟ په طعام کښې به څه څه تیاروو؟ وغیره وغیره د یو یو څیز مُتَعَلِّق د کور کسان خپل مینځ کښې څو څو ځله مشوره کوي، او د افسوس او حیرانتیا خبره دا ده چې د رَمَضَانُ الْمُبَارَك نه پس صرف د یوے ورځې عیدُ الفِطر [یعني وړوکے اختر] راروان وي، مونږه د دغه یوے ورځې په تیارئ کښې د ټول رَمَضَانُ الْمُبَارَك میاشت تیروو، جامے څنګه اخستل دي؟ څپلئ څنګه او د څو روپو والا اخستل دي؟ او ډیر نادان خلق خو صرف د اختر د سامانونو اخستلو د پاره روژه پریږدي چې صبا له بازار ته تلل دي، ګنړه به ډیره وي، ګرمي به هم ډیره وي، تږي به شو، ځکه به صبا له روژه نه نیسو. اَسْتَغْفِرُ الله! اَسْتَغْفِرُ الله!

**مَعَاذَ الله!** څومره ناداني ده چې صرف د اختر د یوے ورځې تیاري داسې په شوق کیږي، حالانکه د کومې روژے په برکت چې مونږ ته د انعام په طور د اختر ورځ نصیب کیږي، د هغې عَظِیمُ الشَّانِي میاشتې د پاره مونږه هیڅ تیاري نه کوو.

زار شم د صحابهٔ کرامو عَلَیْهِمُ الرِّضْوان د نیکو د جذبے نه! د **الله** پاك هغه نیك بندګان داسې جذبے والا وو او نیکئ کولو والا وو چې د شَعبان (د وړومبئ شپې) میاشت به ښکاره شوه نو د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د میاشتې تیاري به ئې شروع کړه.

حضرت اَنَس بِن مالِك رَضِیَ اللہُ عَنْہ فرمائي: د شَعبان د (وړومبۍ شپې د) مياشت ښكاره كيدو سره به صحابهٔ كرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوان تلاوتِ قرآنِ كريم ته ډير مُتَوَجِّه شولو، د خپلو مالونو زكاة به ئې ويستلو چې غريبان او مِسكينان د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د روژو د پاره تياري اوكړي، سوداګرو به خپلې قرضے ادا كړې ، د نورو نه به ئې خپل قرضونه وُصول كړل، (او دغسې د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د راتلو نه مخكښې به ئې خپل ځان فارغه كړو) او د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د مياشت ښكاره كيدو سره به ئې غُسل اوكړو او (بعضې حضرات به په) اَعتِكاف كښې كښيناستل. (1)

اے عاشقانِ رسول! **اللّٰه** پاك دِ توفيق راكړي چې د رَمَضَانُ الْمُبَارَك مياشت ښه په عبادت او رياضت كښې تيره كړو، مونږ له پكار دي چې د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د مياشتې د راتلو نه مخكښې تياري اوكړو، مَثَلاً ۞ **دا ځل به رَمَضَانُ الْمُبَارَك كښې دومره ځله قرآنِ كريم ختموم،** ۞ **دومره دُرُود شريف به لولَم،** ۞ دومره نوافِل به ادا كووم، ۞ دومره وخت به په ذِكر و اَذكار كښې تيرووم، دغسې نيتونه كول او خپل جدول جوړول پكار دي. مخكښې نه د جدول [يعني د اِډوانس شيډول] جوړولو بهترينه طريقه دا ده چې انسان خپل شيډول اوليكي او ځان سره ئې محفوظ كړي، ګنې نِيَّت به اوكړي خو چې كله رَمَضَانُ الْمُبَارَك راشي نو بيا به ترينه هير وي، د نن نه كوشش اوكړئ او د رَمَضَانُ الْمُبَارَك جدول [يعني د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د مياشتې د تيرولو خپل شيډول] جوړ كړئ او يو محفوظه ځائے كښې ئې اوليكئ.

د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د جدول جوړولو وخت كښې حكمتِ عملي اختيارول پكار دي، هغه دا چې په عبادتونو كښې د ټولو نه افضل فرائض دي او په رَمَضَانُ الْمُبَارَك كښې يو

---

[1] ...غُنْيَةُ الطالبين، قسم الثالث: مواعظ القرآن، جز:1، صفحه:341۔

فرض د اوياؤ فرضو برابر دے، خپل جدول کښې فرائضو ته ترجيح ورکول پکار دي. مثلاً بنده دِ غور اوکړي چې په ما څومره علمِ دين زده کول فرض دي، آيا هغه ما پوره زده کړي دي؟ که نه ئې وي زده کړي نو د فرض علم زده کولو وخت دِ هم مقرر کړي، دغسې که د لمُونځونو قضا پرې پاتې وي نو هغه ادا کول وغيره.

فرض علوم زده کولو د پاره د اَميرِ اهلسنت، بانئ دعوتِ اسلامي حضرت عَلَّامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ کتابونه **فيضانِ رمضان، نماز کے اَحکام، کفریہ کلمات کے بارے میں سوال جواب، غیبت کی تباہ کاریاں** وغيره د **مَكْتَبَةُ الْمَدِينه** نه حاصل کړئ، دغه شان **بہارِ شریعت** او د **مَكْتَبَةُ الْمَدِينه** نور کتابونه او رسالے حاصلې کړئ او د هغې د لوستلو باقاعده وخت مقرر کړئ، په **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** کښې **مَا شَآءَ الله** د مدني مذاکرو سلسله جاري وي، **اَلْحَمْدُ لِلّٰه**! اَميرِ اهلسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ په **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** کښې هره ورځ دوه مدني مذاکرے فرمائي (يعنې د عاشقانِ رسول د سُوالونو جوابونه ورکوي)، يوه مدني مذاکره د مازديګر نه پس او دويمه د تراويح نه پس په مدني چينل باندې براهِ راست نشر کيږي، دا مدني مذاکرے د علمِ دين زده کولو بهترينه ذريعه ده، په دې مدني مذاکرو کښې شرکت کوئ.

د دې نه علاوه د دعوتِ اسلامي د علمي و تحقيقي شُعبے **اَلْمَدِينَةُ الْعِلْمِيَّه** يو ښکلے کتاب دے "**رمضان المبارک کے صبح وشام گزارنے کا طریقہ**"، په دې کتاب کښې د ډيرو ډيرو فرضو علومو سره سره د **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** د آخرئ عشرے (يعنې د 21 نه 30 رمضان) پورې جدول ورکړے شوے دے، د **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** جدول جوړولو د پاره د دې کتاب نه هم ډير مدد حاصلولے شئ.

## د اِعتِکاف فضائل

د رَمَضَانُ الْمُبَارَك برکتونو او رحمتونو حاصلولو، د ګناهونو نه بچ کيدلو او په نيکو کښې د تيرولو د پاره بهترينه طريقه اِعتِکاف دے. ۞ **د شعبانُ المُعَظَّم په آخرئ ورځ لمر پريوتو نه مخکښې دِ بنده تياري اوکړي او د اِعتِکاف په نِيَّت دِ جمات ته لاړ شي،** ۞ د جمات د آدابو خيال ساتلو سره دِ پورا مياشت په جمات کښې تيره کړي، ۞ کله دِ د قرآنِ کريم تلاوت کوي، ۞ کله دِ ذِکرُالله کوي، ۞ کله دِ د آخرت په مُعامَلاتو کښې غور کوي، ۞ کله دِ د ديني کتابونو مطالعه کوي، ۞ په ژړا ژړا دِ د **الله** پاك په بارګاه کښې دُعاګاني کوي، ۞ بخښنه دِ غواړي، ۞ بس د دُنيا نه دِ ډډه اوکړي او پورا رَمَضان دِ د **الله** په کور کښې اوسي، خوږ آقا مکي مدني مصطفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: څوك چې د **الله** پاك د رضا او خوشنودئ د پاره يوه ورځ اِعتِکاف اوکړي، **الله** پاك به د هغه او د دوزخ تر مينځه درې خَندَقونه [کندې] حائل کړي، د هر خَندَق فاصله د مشرق او د مغرب د فاصلے نه هُم زياته ده. [1]

د **اُمُّ الْمُؤمِنِيْن** حضرت عائشه صديقه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دے: **مَنْ اِعْتَكَفَ اِيْمَاناً وَ اِحْتِسَابًا غُفِرَ لَهٗ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهٖ** چا چې د اِيمان سره او د ثواب حاصلولو په نِيَّت اِعتکاف اوکړو د هغه تير شوي ګناهونه به اوبخښلے شي. [2] په يو حديثِ پاك کښې فرمائي: چا چې په رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې د لسو ورځو اعتکاف اوکړو هغه داسې دے لکه دوه حجونه او دوه عمرے ئې چې اوکړي.[3] د اِبنِ ماجه شريف په روايت کښې

---

[1] ...شُعَبُ الْاِيْمَان، باب: فی الاعتکاف، جلد: 3، صفحه: 425، حدیث: 3965۔

[2] ...جَامِع صغِیر، صفحه: 516، حدیث: 8480۔

[3] ...جَامِع صغِیر، صفحه: 516، حدیث: 8479۔

دي: اعتكاف كوونكے د ګناهونو نه بچ اوسي او د هغه د پاره ټولې نيكۍ ليكلے كيږي څنګه چې د هغو د كوونكي د پاره وي.(1) يعنې اعتكاف كوونكے چې د اعتكاف په وجه د كومو نيكو كولو نه محرومه وي لكه د قبرونو زيارت كول، مسلمانانو سره ملاقات، د بيمار تپوس كول، د جنازے لمُونځ كول وغيره، هغه ته به د دې ټولو نيكو ثواب هغسې ميلاويږي څنګه چې د دې كارونو كولو والؤ ته ثواب ميلاويږي. د حضرت حسن بصري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه منقول دي: اعتكاف كوونكي ته هره ورځ د يو حج ثواب ميلاويږي. (2)

خيال لرئ! د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په آخرۍ عشره كښې اِعتِكاف كول سُنَّتِ مُؤَكَّدَه عَلَى الكِفَايَه دي. د "كِفايه" معنٰى دا ده چې كه په پوره ښار كښې هيڅ څوك اِعتِكاف اونكړي نو د ټولو نه به پوښتنه كيږي او كه په ښار كښې يو كس هُم [اِعتِكاف] اوكړو نو د ټولو غاړه خلاصه شوه. د پورا رَمَضَانُ الْمُبَارَك اِعتِكاف كول هم د نبي كريم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه ثابت دي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د اجتماعي سُنَّت اِعتِكاف بركتونه

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په مُقَدَّسه مياشت كښې هر كال په لكونو مسلمانان د رضائے اِلٰهي حاصلولو، د خوږ مصطفٰى صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په سُنَّتو باندې عمل كولو او د شبِ قدر حاصلولو د پاره د دې مياشتې په آخرۍ عشره كښې اِعتِكاف كوي، يقيناً دا ډيره خوش قِسمتي ده خو د علمِ دين د كمي او ناپوهتيا په

---

[1] ...ابن ماجه، كتاب: صيام، باب: فی ثواب الاعتكاف، صفحه: 284، حديث: 1781۔

[2] ...شُعَبُ الْاِيْمَان، باب: فی الاعتكاف، جلد: 3، صفحه: 425، حديث: 3968۔

وجه بعضې اِعتِکاف کوونکي د جمات آداب او عبادات په صحيح طريقه نه شي ادا کولے او دغسې د اِعتِکاف د برکتونو نه محرومه پاتې شي. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د عاشقانِ رسول ديني تحريك دعوتِ اسلامي مسلمانان د قرآن و سُنَّت د عامل جوړولو کوشش کوي، هغوئي ته علمِ دين زده کوي او په هغې د عمل کولو درس ورکوي او د عباداتو د شوق زياتولو کوشش کوي، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دعوتِ اسلامي زير اِهتِمام هر کال په ملك او بيرونِ ملك کښې په زرګاؤ جماتونو کښې د اجتماعي اِعتِکاف سلسله وي، د دې اِعتِکاف د يو پيشمني نه واخله د بل پيشمني پورې د يو يو منټ جدول جوړ شوے دے، مُبَلِّغِين د زده کولو او ښودلو حلقے لګوي، کله د درس و بيان په ذريعه د علمِ دين زده کولو موقع ميلاويږي، کله قرآنِ کريم د صحيح مخارجو او د تجويد و قراءت سره د زده کولو حلقے، کله د سُنتونو او آداب د زده کولو، کله د دُعاګانو يادولو حلقے، د فرض علومو زده کولو ترکيب، قرآنِ کريم د ترجمه و تفسير سره د وئيلو او اوريدلو حلقے، د دې سره سره د اشراق و څاښت، اَوّابِين، صلٰوةُ التَّوبه، تَهَجُّد، د روژه ماتي او پيشمني ژړوونکي دُعاګانې، الغرض د علمِ دين او نفل عبادتونو د برکتونو نه مالا مال دا اِجتماعي اِعتِکاف د باعمله جوړولو، د سُنَّتونو د پابند کولو او د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د برکتونو نه د څولئ ډکولو بهترينه ذريعه ده.

اے **عاشقانِ رسول!** دُنياوي کارونه نه ختميږي، نه به ختم شي، را روان کال معلومه نه ده چې مونږ ته به رَمَضَانُ الْمُبَارَك نصيب شي او که نه، بس هِمَّت اوکړئ، ذِهن جوړ کړئ او دا ځل د دعوتِ اسلامي تحت اجتماعي اعتکاف کښې شريك شئ. اِنْ شَآءَاللّٰه! بيشميره برکتونه به درنصيب شي، ستاسو د ترغيب د پاره يو مدني سپرلے پيش کيږي:

## خراب اخلاق ئې ښه شو

د شُجاع آباد ضلع ملتان يو اسلامي ورور د مور و پلار سخت ګستاخه وو، کرکټ او

بلیرډ کولو کښې به ئې خپلې ورځې بربادولې، او شپه به ئې په ویډیو سینټر کښې تیریدله، په رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې به ئې هم د مور و پلار سره جګړې کولې تر دې چې د کور سامان او لوښي به ئې ماتول، د خپلو ګناهونو نه ټچپله هم بیزاره وو، ډیر زیات جذباتي وو، او مَعَاذَالله څو ځله ئې د خودکُشئ کوشش هم کړے وو خو اَلْحَمْدُ لِلّٰه ناکامه شوے وو، د الله پاك په كرم هغه ته د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په آخرئ عشره کښې د اِعتكاف شوق پیدا شو، د خپل کور خوا ته نِزدې جمات کښې ئې د اعتكاف اراده وه، د يو اسلامي ورور سره ئې ملاقات اوشو، د هغه په اِنفِرادي كوشش د عاشقانِ رَسُول دِيني تحريك دعوتِ اسلامي عالمي مدني مركز فیضانِ مدینه کراچئ کښې کیدونکي اجتماعي اعتكاف کښې د عاشقانِ رسول سره مُعتَکِف شو. پینځ شرټ اغوستلو والا ځلمي چې د اجتماعي اعتكاف بركتونه اوليدل، د [سُنَّتو او آدابو] زده كولو حلقو کښې شريك شو، د سُنَّتو ډك بیانونه ئې واوریدل نو د عاشقانِ رسول صُحبت پرې اثر اوکړو او د هغوئي په صحبت کښې داسې رنګ شو چې ګیره ئې پریښودله، د عمامے شريفې تاج ئې په سر کړو او د اختر په شپه ئې په ژړا ژړا د ګناهونو نه توبه اوکړه او کور ته د تللو په ځائے د درې ورځو مدني قافله کښې عاشقانِ رسول سره په سفر روان شو. د هغوئي وینا ده: قَسم په خدائے! دا زما د ژوند د ټولو نه وړومبے اختر وو چې ډیر ښه تیر شو. بیرته کور ته راغلو او د مور په ښپو پریوتلو او دومره زیات ئې اوژړل چې سلګئ ئې شروع کړي او بےهوشه شو، تقریباً نیمه ګینټه پس په هوش کښې راغلو نو د کور ټول خلق ترینه چاپیره وو او حیران وو چې په ده څه شوي دي، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ کور کښې ډیر ښه ماحول جوړ شو. (1)

---

[1] ...فیضانِ رمضان، صفحه:412۔

## دارُ الاِفتَاء اَهلِسُنَّت موبائل ايپلي کيشن

**اے عاشقانِ رسول!** د دعوتِ اسلامي آئی ټی ډيپارټمنټ له طرفه يو موبائل ايپلي کيشن جاري شوے دے، چې نوم ئې دے: (*Dar-ul-Ifta Ahlesunnat*) (**دارالافتاء اَهلِسُنَّت**). ❁ دا ايپلي کيشن د *Android* او *IOS* دواړه قِسمه ډيوائس په ذريعه په آسانه ډاؤن لوډ کولے شئ، ❁ په دې موبائل ايپلي کيشن کښې په دوو **مختلفو** موضوعاتو د سوالونو جوابونه، د آډيو، ويډيو او ټيکسټ په صورت کښې موجود دي. ❁ احکامِ تجارت او ❁ فرض علوم کورس او ❁ تجارت کورس هم په دې ايپلي کيشن کښې شامل دي. د فرض علومو زده کولو، او د روزانه مسائلو د شرعي حل معلومولو د پاره دا ايپلي کيشن ډاؤن لوډ کړئ، پخپله هم د دې نه فائده واخلئ او نورو ته هم فائده اورسوئ.

**صَلُّوا عَلَی الْحَبِيب!　　صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د بيان په آخره کښې د سُنَّتو فضيلت او يو څو سُنَّتونه او آداب د بيانولو ثواب حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، **شَهَنْشاهِ نُبُوَّت** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم درې ځله اوفرمائيل: زما په نائب دِ د **الله** پاک رحمت وي. عرض اوکړے شو: حُضُور! ستاسو نائب څوك دي؟ اوئې فرمائيل: زما د سُنَّت سره محبت کوونکي او نورو ته زده کوونکي.[1]

سینہ تیری سُنَّت کا مدینہ بنے آقا　　جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

سِينه مې دِ شي جوړه د سنّتو مدينه خوږه آقا　　جنّت کښې مې خپل جوړ کړه ګاونډي خوږه آقا

---

[1]...جامع بیانِ عِلم، بَابُ: عِلم کے فضائل، جلد: 1صفحہ: 201، حدیث: 220۔

# په ماشومانو باندې شفقت کول سُنَّت دي

**دوه فرامینِ مصطفٰی** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: (1) څوک چې زمونږ په وړو باندې رحم نه کوي هغه زمونږ نه نه دے[1]، (2) په جنَّت کښې یو کور دے چې نوم ئې **دارُ الفَرَح** (د خوشحالئ کور) دے، په هغې کښې به هغه خلق داخلیږي څوک چې د ماشومانو زړه خوشحالوي.[2]

**اے عاشقانِ رسول!** په ماشومانو باندې شفقت کول د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دي. ۞ رَسُولِ کریم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به په ماشومانو باندې ډیر زیات شفقت کولو، ۞ چې کله به نوي میوه راغله په هغې کښې د برکت دُعا کولو نه پس به ئې د ټولو نه مخکښې هغه [میوه] ماشومانو ته ورکوله، ۞ خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به چې د ماشومانو په خوا تیریدلو نو هغوئی ته به ئې سلام کولو، ۞ ماشومانو ته به ئې کُټِّـي ورکوله، په غیږه کښې به ئې کښینول، یوه ورځ حضرت اُمِّ قَیس رَضِيَ اللهُ عَنْهَا خپل د پئیو ماشوم د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې حاضر کړو، خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه ماشوم په غیږه کښې کښینولو، هغه [ماشوم] د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په جامو مبارکو واړه بول اوکړل، خوږ نبـي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په هغې اوبه اوبهیولې او هیڅ ئې اونه فرمائیل، ۞ د کلي یو کس د خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې حاضر وو، عرض ئې اوکړو: تاسو (صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) ماشومان ښکلوئ، مونږه خو داسې نه کوو. ارشاد ئې اوفرمائیلو: چې **اللہ** پاك ستاسو د زړه نه رحم اوباسي نو زه څه کولے شم.[3]

---

[1]...ترمذی، کتاب: بِرّ وَالصله، صفحه:471، حدیث:1919۔

[2]...جامع صغیر، صفحه:140، حدیث:2321۔

[3]...سیرت رسول عربی، صفحه: 325تا330خلاصةً۔

**مَاشَآءَ اللّٰه!** عامِلِ سُنَّت، اَمیرِ اهلسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ هم په ماشومانو باندې ډیر شفقت کوي، هغوئ فرمائي: بعضې وخت ما د خپلو ماشومانو سره هم مشورے کړي دي اګرچې ما ته معلومه وي چې څه کول دي، د دې باوجود صرف د هغوئ د زړه ساتلو د پاره د هغوئ سره مشوره کووم. ماشوم د مشورے ورکولو اَهل نه وي خو زما د مشورے کولو سره د هغوئ حوصله زیاتیږي. بعضې وخت ماشوم داسې خبره اوکړي چې د بنده خپله توله حکمتِ دغسې پاتې شي چې دې ماشوم واقعي د کار خبره اوکړه. د ماشومانو د زړه ساتلو په نیت ما ډیر ځله د هغوئ په مشورو عمل هم کړے دے. زما په ذِهن کښې یو حدیثِ پاک ناست شوے دے چې: په جنَّت کښې یو کور دے چې نوم ئې **دارُ الفَرَح** (یعني د خوشحالئ کور) دے، په هغې کښې به هغه خلق داخلیږي څوک چې د ماشومانو زړه خوشحالوي.[1]

قِسماقِسم سنّتونه زده کولو د پاره د **مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه** دوه کتابونه (۱) د 312 صفحو کتاب ''بهارِشریعت'' حصّه 16 او (۲) د 120 صفحو کتاب ''**سُنَّتیں اور آداب**'' او د اَمیرِ اهلسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ دوه رسالے ''**101 مدنی پهول**'' او ''**163 مدني ګلونه**'' هديةً واخلئ او اولولئ ئې. د سُنَّتو د تربِیَّت یوه غوره ذریعه د دعوتِ اسلامي مَدَني قافِلو کښې عاشِقانِ رسول سره د سُنّتو ډك سفر هم دے.

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

[1]...جامع صغیر، صفحه:140، حدیث:2321۔

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [یعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِیِّ الْاُمِّیِّ الْحَبِیْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِیْمِ الْجَاهِ وَعَلٰی اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائیلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (یعني د جُمعے او زیارت مینځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شریف پابندۍ سره کم ازکم یو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدینه صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِیدار کوي او قَبْر کښې د داخلیدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدینه صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سیِّدُنا انَس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دے چې تاجدارِمدینه صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو کښیناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو اودریدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اویا دروازے:

صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

---

1 . . . افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص ۱۵۱ ملخصاً

خوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اویا دروازے بیرته کرے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشریف ثواب

**اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ**

حضرت اَحْمَد صَاوِی رحمۃ اللہ علیہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شریف یو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شریف لوستلو ثواب حاصِلیږي.[2] راځئ چې په شریکه ئې اُووائیو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صلی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلم

**اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ**

یوه ورځ یو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صلی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلم هغه د خپل ځان او صِدِّیقِ اکبر رضی اللہ عنہ تر مینځه کښینولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رضی اللہ عنہم حیران شو چې دا خوك ذِی مَرتبه [یعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صلی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلم اوفرمائیل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

1... القول البدیع، الباب الثانی، ص۲۷۷

2... افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ الثانیۃ والخمسون، ص۱۴۹

3... القول البدیع، الباب الاول، ص۱۲۵

## اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَکَ یَوْمَ الْقِیَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

### ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

## جَزَی اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

### ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

## لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

---

1... الترغيب والترهيب، كتاب الذكر والدعاء، ٢/٣٢٩، حديث:٣٠

2... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فى كيفية الصلاة... الخ، ١٠/٢٥٤، حديث:١٧٣٠٥

3... تاريخ ابنِ عساكر، ١٩/١٥٥، حديث:٤٤١٥